**هموطنان محترم!**

وقوع حوادث ناگوار اخیر که برای هموطنان ما در گوشه و کنار کشور صدمات مالی و جانی رسانید، جمعیت هلال احمر افغانی بمنظور تقلیل آلام بشری خدمات بشردوستانه را در هر حال برای همه نیازمندان ارائه نموده که بنابر حجم حادثه و نیازمندی ها بسنده نبوده بناءً، تقاضا میگردد تا مردم خیر اندیش کشور، تجار محترم ملی، نهاد های خیریه ملی و بین المللی در این راستا جمعیت هلال احمر افغانی را بمنظور ارائه خدمات بیشتر، همکاری نمایند.


شماره : اول

# ماهنامه الکترونیکی

ماه محرم الحرام سال ۱۴۴۴ هـ.ق

د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې د يـوه خیریـه، ملـي، خپلـواک، ناپلـوي او نـا پېیلـي بنسـټ پـه توګـه موخـه دا ده، چـې د طبیعـي او غیرطبیعـي پېښـو د زیانمنـو رنـځ او کـړاو را کـم کـړي، اړمنـو وګـړو تـه؛ چـې روغتیایـي مرکزونـو تـه لاسرسـی نلـري؛ روغتیایـي خدمتونـه وړانـدې کـړي، د ټولنـې لـه بېلابېلـو پرګنـو څخـه خیرپـال وګـړي د رضـاکار او غـړي پـه توګـه جـذب کـړي. بېوزلـو کورنیـو تـه د ژونـد د آسـانتیاو د برابرولـو لپـاره پـه ولایتونـو کـې مرسـتونونه رامنـځ تـه کـړي او د کاري شـریکانو پـه مرسـته ټولګټـې پـروژې د هېـواد پـه لـرې پرتـو سـیمو کـې د وګـړو د سـتونزو د لـرې کولـو پـه موخـه پلـي کـړي. افغانـي سـره میاشـت د دولـت پـه بودجـه کـې ونـډه نلـري، خـو د خپلـو بشـرپالو خدمتونـو لګښـتونه د کاري شـریکانو او ملـي سـوداګرو د هېـواد خیرپالـو خلکـو، ملـي او نړیوالـو خیریـه بنسـټونو، مماثلـو ملـي ټولنـو او د دې خیریـه ټولنـې د ملکیتونـو لـه لارې تامینـوي.

## خدمات و فعالیت های بشردوستانه جمعیت هلال احمر افغانی در ماه محرم الحرام




### د پېښو د اداري کړنې



د افغاني سرې میاشتې د پېښو اداري د ۱۴۴۴ سپوږمیز کال د محرم الحرام په میاشت کې ۱۰۹۹۲۱ تنه پېښځپلو ته په ارزګان، بلخ، پروان، پکتیا، پکتیکا، دایکنډي، زابل، غزني، کابل، کاپیسا، کندهار، کنړ، لغمان، لوګر، میدان وردک، ننګرهار، هرات او هلمند ولایتونو کې خوراکي او غیر خوراکي توکي او نغدې پیسې وېشلې دي.

### د روغتیایي خدمتونو ریاست کړنې



د افغاني سرې میاشتې د روغتیایي خدمتونو ریاست د ۱۴۴۴ سپوږمیز کال د محرم الحرام په میاشتې د ۵۰ بستریز روغتون او ۱۵۰ ثابتو، جامع، ګرځندو او فرعي کلینیکونو له لارې (۲۰۲۰۵۳) تنو ناروغانو روغتیایي خدمتونه او همدارنګه (۱۰۸۸) تنه ناروغان د رضاکارانو له لوري روغتیایي مرکزونو ته لېږدول شوي.

### د ځوانانو او رضاکارانو کړنې



د افغاني سرې میاشتې د ځوانانو او رضاکارانو اداري د ۱۴۴۴ سپوږمیز کال د محرم الحرام په میاشت کې د غړو جلب او جذب د ۳۴ نمایندګیو په کچه پیل او د ۱۶۰ تنو په شمېر نوي غړي یې ثبت او راجستر کړي، همدارنګه د باسکیټبال په لوبو کې توانېدلې، چې د اتلولۍ جام د افغاني سرې میاشتې په نوم کړي. همدارنګه رضاکارانو د ( زابل، کندهار، خوست، نورستان، پکتیا او لوګر) ولایتونو د پېښځپلو په سروې کې ګډون کړی او له کارکوونکو سره څنګ په څنګ یې د مرستو په وېش کې مهمه ونډه اخیستې.

### د مرستون کړنې



افغاني سرې میاشتې د ۱۴۴۴ سپوږمیز کال د محرم الحرام په میاشت کې د کابل، کندهار، ننګرهار، هرات او بلخ ولایتونو په مرستونونو کې د ۱۸۵۰ په شمېر کورنیو ته اعاشه او اباته ورکړې، سربېره پر دې په مرستونونو کې د ښوونې او روزنې، خیاطی، ګلدوزی، غالیو او ټغر اوبدلو د زده کړو آسانتیاوې، چې د مشمولینو د ځان بساینې په موخه په لاره اچول کېږي؛ هم ترسره کړې.

Afghan Red Crescent Society

شماره تماس: ۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳ ۰۷۲۸۹۰۰٦۷٤ www.arcs.af info@arcs.af

آدرس: افغانستان، کابل، ناحیه پنجم، افشارسیلو، دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی

پست بکس: ۳۰٦٦